د افغانستان د پخواني ولسمشر اتل شهيد دوکتور نجيب الله د شهادت د اوه ويشتم تلين په ياد:

انتظار - کابل

زموږ ګران او لرغونی هيواد افغانستان په تېرو څه د پاسه څلورو لسيزو کې د ويجاړونکو او وژونکو جنګ جګړو په ډګر بدل شو، د دې جګړو په دوران کې نامکنه وه چې د عواقبو لړليد يې داسې شوی وای لکه څنګه چې پېښ شول، په دې جګړو کې يو روښانه او تاريخي حقيقت دا وو چې زموږ ميړني ولسونه هميشه په تاريخي ستونزو او ناخوالو کې د طبيعي ملي غرور له مخې په ځان باوري وو چې (( افغانستان زموږ دی نو ځکه بری زموږ دی)) له دې هم سترګې نه شي پټيدای چې زموږ پياوړي او ايمانداره خلک د تاريخ په اوږدو کې د وحشي ترينو او بې انډوله اوږدو جنګ جګړو بې ساري تحمل او زغم لرونکي وو او دي.

زموږ هيواد افغانستان د خپل ځانګړي جيوپوليټيک او جيوستراتيژيک شتون له امله د تاريخ په بېلا بېلو وختونو کې د نيواکګرو او اشغالګرو هيوادونو او ګاونډيانو د يرغلونو ميدان پاتې شوی دی. نيت او موخه يې دا وه چې زموږ د ستراتيژيک شتون څخه د خپلو ناروا او نامشروع ګټو لپاره استفاده وکړي. زموږ وياړلي تاريخ هم دا ثابته کړي او زموږ دښمنانو هم دا منلي ده چې د افغانانو بند موټی چا په زموږ نه دی خلاص کړی چا چې زموږ د هيواد پر مقدس حريم خپله خيرنه پښه ايښي ده نو بيا يې ځان روغ رمټ نه دی وړی زموږ د هيواد خاوره ورته په محشر او ګورستان بدله شوي، ککرۍ يې دلته د خاورو سره خاورې شوي او په ټيټ سر شرميدلي زموږ د هيواد څخه تېښتي ته اړ شوي دي چې مهمې بېلګې يې د افغان- برطانيه، افغان – شوروي او افغان – امريکا تر منځ جنګ جګړې د يادولو وړ دي.

ټيک اوه ويشت کاله وړاندې د ۱۳۵۷ لمريز کال د تلې مياشتې په پنځمه نېټه د افغانستان د ازادۍ او پرمختګ دښمنانو د افغانستان پخوانی جمهور رئيس، د ملي روغې جوړې د واټ طراح او نوښتګر او د وطن ګوند مؤسس او مشر دوکتور نجيب الله په يوه نړيواله توطيه کې د نړۍ د سترو ښکيلاکګرو هيوادونو په امر او هدايت د اجرتي قاتلانو په لاس په داسې حال کې شهيد کړل شو چې ده په پلازمېنه کابل کې د ملګرو ملتونو په سياسي استازوالۍ کې پناه اخيستې وه. دا زړه بګنونکي پېښه  د نړۍ د زبرځواکونو او تور مخو پنجابي استعمارګرانو له خوا د افغانستان د ميړني او غيور ملت پر وړاندې نوی ګزار وو. په دې توګه د افغانستان د تاريخ يوه بله پاڼه په وينو سره شوه، د هيواد په تاريخ کې يې رښتينی د

شهادت لوړ مقام ومومند او هغه خپل لوړ غږ یې رښتیا کړ چې ویل به یې: (( وطن یا کفن)) او دا راز یې د ملګرو ملتونو سپینه جنډه چې د کابل ښار د ۶۵ زره بې ګناه او بې وسو اوسیدونکو په وینو چې د تنظیمي بې فرهنګه ټوپکمارو د خپل منځي جنګ جګړو له امله لیته پیته شوي وه په خپلو پاکو اوښکو پریمینځله.

انا لله و انا الیه راجعون

دوکتور شهید نجیب الله واک ته د رسیدو وروسته د ملي روغې جوړې سیاست چې په بشپړه توګه یې د افغانانو د هیلو او ارمانونو څخه سرچینه اخیستله د کړکېچ او بحران څخه د هیواد د را ایستو چې یوازینی بدیل وو رامنځته کړ. د ملي روغې جوړې د تګلارې بنسټیز هدف په افغاني ټولنه کې د رامنځته شوي بیلتون د له منځه وړلو، د ملي وفاق د رامنځته کیدو، د جنګ جګړو د ختمیدو، د هیواد د بیارغونې، د افغان مهاجرینو د بېرته راستنیدو او ځای پر ځای کیدو او بلاخره د یوې ولسواکې او پرمختللي ټولنې رامنځته کول وو. دا په ډېره ښه توګه سنجول شوي پالیسي وه. د ډاکټر نجیب الله عزم او ثبات د دې کار د پلي کولو په لار کې مثبتو پایلو ته مخه کړه.

سره له دې چې ځیني بهرنیي او کورنیي لوبغاړي په زغرده د دې کار سره د مخالفت په لټه کې وو او بل دا چې یو شمېر هیوادونه او ګاونډیان له دې پلوه ډېر ناارامه وو ځکه اساساً دا یوه افغاني د حل لاره وه او د منطقي نتجه ګیری له مخې دا د افغانستان څخه د نړیوالې لاسوهنې د مخنیوي په معنا وه.

جمهور رئیس نجیب الله په ډېره میړانه، قوي استعلال او د سولې او روغې جوړې څخه په دفاع کولو سره وکولای شول چې په سیاسي توګه د دې پروسې مخالفین مات کړي. جمهور رئیس په ډېرې هوښیارۍ سره د ملګرو ملتونو سازمان د منځګړیتوب په توګه راښکېل کړ تر څو د جګړې د سیاسي حل لارې په خاطر د نړیوالو لوبغاړو د مخالفینو د ګټو پر مخ دروازه ور وتړي.

د دې بهیر د تطبیق په لار کې کلونه کلونه زیات زیار او صادقانه کار ترسره شوو او د ۱۹۹۲ زیږدیز کال په پسرلي کې د ملګرو ملتونو په پنځه فقره ییز پلان په اړوند تقریباً بشپړ ملي او نړیوال توافق منځته راغی. لږ تر لږه په ظاهري توګه په جګړه کې ښکېلو تنظیمونو او نړیوالې ټولنې د سولې د پلان په اړوند خپل ملاتړ څرګند کړ. دا ډېره ستره لاسته راوړنه وه ځکه چې د افغانستان په تېرو څو کالونو کې دا پر ځای او یوازینی ملي توافق وو. که چېرې د یو شمېر بې لارې جهادي تنظیمونو او د هغوی بهرنیو پلویانو او

پنځم ستون د کړیو لخوا وربانديږ کودتا ترسره شوي نه وای نو هرو مرو به دا بهیر په افغانستان کې د سولې او ثبات سبب ګرځیدلی وای او د بې ګناه افغانانو د وینې توئیدو مخه به یې هم نیولې وای او هم به په افغانستان کې د نړیوال تروریزم د شتون او ودې مخه به هم نیول شوي وای. هیوادوال باید هېر نه کړي چې جمهور رئیس نجیب الله د ملي روغې جوړې د تطبیق لپاره د ستونزو ډک او کړکیچنو حالاتو کې کار وکړ کوم چې هغه د هیواد په تاریخ کې له نورو مشرانو مخه بیلوي. د ډېرو سترو او مشکلو چیلنجونو په وړاندې په ټینګه اراده، قوي عزم او میړانې سره د ده څخه یو داسې انسان جوړ کړ چې یوازې او یوازې د خپل هیواد د لوړو او دنګو غرونو سره پرتله کیدای شي. د سولې او روغې جوړې پلان د دقیقو توضیحاتو په اړوند د ملګرو ملتونو سره د ده بشپړ همکاري د درناوي وړ ده، خو له بده مرغه د ملګرو ملتونو امنیت شورا په هغه وخت کې خپل ټول زور او اغېز د سولې د پلان پر عملي کیدو باندې وه نه چاوه، او حتی دا چې ملګرو ملتونو دومره ناتواني او ناغیرې ښکاره کړه چې د سولې پروسي طراح چې د ملګرو ملتونو د پلان د یوې برخې پر بنسټ باندې ورته کوم بهرنی هیواد په ځانګړي توګه هندوستان ته د تللو لاره ورکړل شوي وای، کوم چې کورنۍ یې لا له وړاندې هلته استوګن وه، په ډېر تأسف سره باید ووایو چې طالبانو د کابل په نیولو سره تر ټولو لومړی ډاکټر نجیب الله د ملګرو ملتونو د سیاسي مقر څخه په زور او جبر رابهر او په ډېره وحشیانه توګه یې لومړی هغه سخت شکنجه او وروسته د خپل ورور جنرال احمدزي سره یې د ټولو نړیوالو اصولو، اسلامي ارزښتونو او افغاني دودونو پر خلاف د محاکمې پرته دار ته وخیږولو او له ۱۹۹۲ زیږدیز کال څخه تر ۲۰۰۱ زیږیدیز کال د سپتمبر تر یولسمې نیټې پورې هیواد یو ځل بیا په یوه اوږده کورسوځونکي او افغان وژونکي جګړه کې ښکېل شو. په لس ګونه زره افغانان د دې جګړې په ټس کې شهیدان، په میلیونونو افغانان مهاجر او جګړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر وروستیو پورې وغزیده او د زیات شمېر افغانانو وینه توی شوه. د ملي روغې جوړې پنځه فقره بیز پلان ناکامیدل له شک پرته ملګرو ملتونو ستره سیاسي ماته وخوړه او د هغه ځانګړي استازي بینین سیوان بدنام شو. ملګري ملتونه د امریکا د متحده ایالاتو اجیره اداره ده او دوی د دې ادارې له لارې په نړۍ کې خپل شوم او شوینستي پلانونه پرمخ بیایي. د ډاکټر نجیب وژنه د ملګروملتونو په لمن تور داغ پرېښود تر څو چې دا نړۍ وي او دا د دوی شریکه او اجیره اداره وي دا د بې ننګۍ تور داغ به د دوی پر لمن پروت وي ځکه د ډاکتر نجبیب الله د قتل مسله د دوی د پلانونو برخه جوړوي. دا دی اوس د شهید ډاکتر نجیب الله د شهادت له حماسې پوره اوه ویشت کاله تیریږي خو لکه څنګه چې لیدل کیږي نجیب الله د هرې ورځې په تیریدو سره د هیواد د سیاسي بهیر په ټولو اړخونو

کې خپل اغېزناک او ځواکمن حضور خپلوي د ده افکار په سیاسي خوځښتونو او معنوي شخصیت یې د ولسونو او د هیواد د ګڼو پرګنو په زړونو او رګونو کې ځای نیسي نو پر ځای او اړینه بلل کیږي څو د همدې لارې د ټولو نورو ګوندي او غېرې ګوندي نوم پاتې او نوم ورکو سربښیندونکو د شهادت د حماسو د درناوي مراتب هم پر ځای کړو دا ځکه چې د شهید ډاکټر نجیب الله یاد د هغوی په یاد سره هم بشپړیږي.

ځلانده او تل پاتې دې وي د وطن د لارې اتل شهید ډاکټر نجیب الله خاطرې او کارنامې!